مُقبل کاروان

۲۰۱۳/۰۹/۱۷

# د ملا برادر سناریو نوره هم حساسه سوه

د ملا برادر آزادیدل ډیر نیژدی، او یا تر سره سویده خو هغه بیچاره یی په زوره ناروغه کړیدئ غربی او شرقی استخباراتو د هغه د وژلو یا نیولو یا جذب کولو او ځینو یی د ساتنی هڅی تیزی کړیدی پاکستانی منابعو وویل چه هغه ازاد سو مګر ناروغه دی نامعلوم روغتون ته لیږل سویدئ د امنیتی دلایلو پر بنسټ د هغه ځای نسی ښودلای سرتاج عزیز وویل ملا برادر افغانستان ته نه سپارل کیږی هغه به په پاکستان کی وی ترهغه چی دی وغواړی کوم بل هیواد ته ولاړ سی. ملا برادر په یوه قیمتی الماس بدل سویدئ ټوله ستر هیوادونه یی د لاسته راوړلو هڅی کوی. پخپله د برادر څخه لار ورکه ده نه پوهیږی څه وکړی ظاهراً ازاد سو لیکین هغه مظلوم د خپلی کورنۍ سره په مصونه او ازاده فضا کی لیدنه نسی کولای هر آن د مرګ احساس کوی د خپلو پخوانی یارانو څخه بیل دی، فشار یی تیټ سویدئ سرتاج عزیز وویل د شکری مرض لری خو حقیقت خدای ته معلوم چی رشتیا ناروغه دی او که یی د مرګ لاری چاری جوړوی څکه ملا ربانی او ملاعبیدالله هم په پاکستانی زندانو کی ووژل سوه ملا برادر که جوړ هم وی اوس ناروغه کیږی دا خو د طالبانو د دوهم سړی مقام او ارزښت دی خو که کله د ملا محمد عمر پښه را منځ ته سوه نو د دوهمی نړیوالی جګړی قهرمانان به مو هیر سی.

راسی په لنډه کتنه وکړو چی ولی ولسمشر ،او ټوله تنظیمی مشران حتی د طالبانو د یوه لوی قوماندان سره نسی پرتله کیدای لکه منصور داد الله یا ملا ذاکر دا خلک د امریکا او ناټو په وړاندی لوړ قیمتونه لری ملا محمد عمر د نړۍ په سطح د دری په اصطلاح په یوه استوره ای قهرمان بدل سویدئ ټوله نړۍ یی له نامه سره اشنا ده. حتی داسی ګنګوسی هم سته چی وای امریکا هم هڅه کوی د ملا محمد عمر ژوند د خطر سره مخ نسی د دوی په آند که ملا صاحب نه وی یو لوی ولس به تیت او پرک وجنګیږی نو سوله به په افغانستان کی ناممکنه سی بیا به مختلفی خپلواکی قوماندانی رامنځ ته سی یو به سوله منی یو به یی نه منی یوازنی سړی چی ټوله جنګیالی یی قومانده منی هغه ملا صاحب دی. دا قوت په څه کی نغښتی دی؟

زما په آند له یوه طرفه ټوله نړۍ پوه سول چی ملا په ولس کی د کافی ملاتړ څخه برخمن دئ له بله اړخه افغان قبیلوی حاکمیت هغه پښتانه چی د طالبانی روش سره موافق هم نه وه د پښتون په نامه دومره بی برخی او حتی وټکول چی هغوی هم مجبور سوه د ملا صاحب سره خواخوږی پیدا کړی څکه دوی ولیدل چی ټول حکومت، دولتی شتمنی، دولتی ځمکی، ښه چوکی، اقتصادی قرار دادونه، د نفتو انحصار، د بانکونه لرل، بلډینګونه او په بهرنی بانکونو کی پانګی اچونی ټوله او ټوله د هزاره، ازبک او تاجک دی پښتانه که کاتبان او پیاده ګان پاتی وی ممنون دی. حتی د هیواد ژبی تغیر وکړ ټول تلویزنونه،رادیوګانی او اخبارونه په ایرانی کلماتو چلیږی له بله اړخه امریکایانو هم په مجموع کی پښتانه وټکول، د حاکمیت او امریکا دا ډول پالیسیو د پښتنو د اتحاد زمینه برابره کړه او د دی اتحاد مرجع بله نسته غیر له ملا محمد عمر څخه، که د چا زړه وی که نه وی یو ډول نه یو ډول خواخوږی ورسره لری.

په لمړیو کی چی امریکایانو د دموکراسی ډنډوری و وهلی او د تروریزم ډیر بد یی وویل خلک په عام محضر کی د ملا محمد عمر په نوم شرمیدل اما کله چی په لغمان کی ښځی بمبارد سوی په کنړ کی ګڼ شمیر کوچنیان بمبارد سول په کندهار کی واده بمبارد سو او د کندهار په زنګ اباد کی عامه وژنه ترسره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

سوه په هرات کی بالابلوک ولسوالی بمبارد سوه د چاپو په ترخ کی ښځی په سپیو و داړل سوی نور پښتون زوی ته د سوال ځای پاته نه سو او ملا صاحب یی په حقه وګڼی اوس یی ځنی ځنی نوم په ویاړ یادوی. دلته د ملا صاحب د طرفداری هڅه نه کیږی بلکه څه چی حقیقت او عینیت دی باید یاد سی که څه هم ډیر سوالونه او کمی طالبانو ته متوجه دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ